بسم الله الرحمن الرحيم

**خبر او تبصره**

د غوطې ښار رنګ شو او مېرمنو يې وسلې اخيستې

نو، د مسلمانانو پوځ چېرته دی؟




**(ژباړه)**

**خبر:**

رسمي رسنيو او د ټولنيزو رسنيو وېبپاڼو په ختيځه غوطه کې د 400,000 څخه زياتو مسلمانانو د ويشتلو، سوزولو او له منځه وړلو زړه بوږنوونکي انځورونه خپاره کړي. د هادي عبدالله په نوم يوه سوريايي فعال پر خپله فيسبوک پاڼه ليکلي: « هغوی نشي کولای چې شهيدان وشمېرې. په دوو ورځو کې تر ۲۰۰ ډېر کسان شهيدان شوي.»

**تبصره:**

ختيځه غوطه: د لويې جګړې ځمکه؛ لکه څنګه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يې توصيف کړی. دا ځای د رژيم د ډوډۍ شکور او يو ستراتېژيک موقعيت دی چې رژيم غواړي د کلونو لپاره يې کنټرول د دې لپاره په لاس کې واخلي چې اکمالاتي لارې خوندي کړي او د دمشق هوايي ډګر د انقلابيونو له وسلهوالو بريدونو څخه وساتي. د جګړې ځمکه، چې خلک يې په وحشيانه توګه له منځه وړل کېږي، چغې وهي چې له هغه څه سره يو شان کېږي چې کلونه مخکې د روسانو له خوا د چيچينيا په ګروزني کې وشول.

ايا د حلب سناريو تکرار شوه؟ ايا دا يو پلان دی چې بېرته راوړي هغه څه چې په ګروزن« کې وشول؟ په دغو سرليکونو، الجزيرې له روان حالت څخه خبرداری ورکړ. هغه وېره او وحشت چې د امت پاتې برخې ته رسېدلی بس نه وو چې په داسې سرليکونو سره يې روحيه راټيټوی چې- حتا که په غير مستقيم ډول هم وي- د ښخوا په شان د يوې غوڅې ماتې نتيجه ښيي!

له غوطې یې هم لکه د حلب او حمص په شان زړه بوږونوونکي انځورونه خپاره کړي. اوس، لکه څنګه چې فعالین وايي د رژیم او د پلویانو ظلمونه یې له پخوا زیات شوي. یو جنین چې مور یې سوزېدلې وه نړۍ ته مړ راغی، د مور د پوستکي له څېرېدو وروسته یې د دغه ماشوم بدن هم سوزېدلی. د توپک میل د یوه ماشوم په سینه کې ننه باسل شوه چې له لسو کالو زیات عمر یې نه درلود، ګناه یې دا وه چې مسلمان دی، چاته چې د نړۍ د خلکو د عیسویانو، مجوسیانو او یهودو کرکه زیاته شوې.

خو د دغو ټولو ډاروونکو او خواشینوونکو صحنو تر څنګ به د الله سبحانه و تعالی په اجازه د شام پر خلکو د رسول الله صلي الله علیه وسلم باور ریښتیا شي؛ ځکه چې دوی د رباط خلک دي، له تر ټولو ټولو ښو خلکو څخه دي او په نړۍ کې الله سبحانه و تعالی ته د ځمکې له تر ټولو ګرانو برخو څخه. دوی د لویې جګړې خلک دي.

هېڅ کومه د نهیلیتوب او کمزورۍ خبره نشته. موږ به ورته ګورو او الله سبحانه و تعالی به حساب ورسره کوي. موږ ته ځینې ویډیوګانې را رسېدلې چې پکې مېرمنې له نارینه وو سره یو ځای جګړه کوي او یوه مور چې خپل ګران زوی یې له لاسه ورکړی؛ مخ پر وړاندې ځي.

دغه عزم، د وضعیت واقعیت په ښه توګه بیانوي، حقیقت نه تحریفوي او د شام د خلکو پر اوږو د دوی له تحمل لوړ بار نه ږدي. هو، دوی ثابت قدم دي، مصمم دي او خپل جهاد ته دوام ورکوي. خو دوی همدارنګه د یوه لوی امت برخه ده چې پر خپلو د پوځ او د قدرت په خاوندانو باندې شرمېږي چې په زجر کې یې پرېښې اود دې پر ځای چې ویې ژغوري د قاتل لاسو ته یې سپاري، هغوی چې په چاپلوسۍ او چوپتیا د دوی عزت او جسد له خاورو سره یو کوي.

هغه مېرمنې چې له وسلو سره راوتلې وې، دا نارې یې وهلې: موږ د محمد د امت لونې یو، موږ مسلمانې مېرمنې یو، نو چېرته دی اسلامي امت او د مسلمانانو پوځ!؟

سختو ژړاوو د هغو مسلمانانو زړونه زخمي کړل چې یوازې د خبرو وس لري او دلته موږ هغه کسان یو چې د غوطې د سوزېدو او تسلیمېدو لپاره دردېږو: موږ د غوطې له مېرمنو سره د مسلمانانو پر پوځیانو غږ کوو چې د الله غوښتنې ته پام وکړي او له بنده‌ګانو یې ملاتړ وکړي. نو په دې حالت کې به یا په دواړو دنیاو عزتمند وو او یا به هم رټل شوي او رسو او د دردناک عذاب مستحق. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**(إِلا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلا تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)**

**(توبه: ۳۹)**

***که جګړې ته لاړ نشئ، نو یا به درته عذاب درکړل شي او یا به ستاسو پرځای یو داسې قوم راولي او تاسو به هغوی ته هېڅ ضرر نه شی رسولی او الله پر هر څه باندې قدرت لري***

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**بیان جمال**